**د واکسینو د معلوماتو بیانیه**

Many Vaccine Information Statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسین معلوماتو ډېري بیانیې په پښتو او نورو ژبو موجود دي. وګورئ www.immunize.org/vis

# د کووېډ 19 واکسین:
## هغه څه چې تاسو یې په اړه باید پوه شئ

## 1. ولې باید واکسین وکړو؟

د **کووېډ 19** واکسین کولی شي د **کووېډ 19** ناروغۍ مخه ونیسي. که چیرې تاسې ناروغه شئ واکسین کولی شي د کووېډ 19 ناروغۍ شدت کې کموالی راوړي.

کووېډ 19 د SARS-CoV-2 په نوم یادیدونکي کورونا ویروس په واسطه پیدا کیږي چې له یوه فرد څخه بل ته په اسانۍ تیریږي. کووېډ 19 د خفیف څخه تر متوسط ناروغۍ لامل کیدی شي چې یوازې یو څو ورځې دوام کوي، یا هم شدید ناروغي چې روغتون کې بستر کیدو، ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري یا هم د ساه اخیستلو کې د مرستې لپاره وینټیلیټر ته. کووېډ 19 د مړینې لامل هم کیدی شي.

که چیرې پدې اخته شوی فرد علایم ولري، دا د ویروس سره مخ کیدو څخه 2 تر 14 ورځو پورې وروسته راښکاره کیږي. هرڅوک کولی شي له خفیف تر شدید علایم ولري.

- په ممکن علایمو کې تبه یا ساړه، ټوخی، ساه لنډې یا ساه اخستلو کې مشکل، ستړیا (ستوماني)، د عضلو یا د بدن دردونه، سر درد، د خوند یا بوی حس له لاسه ورکول، د ستوني درد، د پزې بندیدل یا بهیدل، زړه بدی یا ګرځون، یا نس ناستی شامل دي.
- په خورا جدي علایمو کې دا موارد شامل کیدی شي: ساه اخیستلو کې مشکل، په سینه کې دوام لرونکی درد یا فشار، نوې پریشانۍ، د راویښیدو یا ویښ پاتې کیدو وړتیا نه درلودل، د پوټکي، شونډو، یا د نوکانو لاندې رنګ الوتل، خړیدل یا شنه کیدل، د پوټکي څرنګوالي په پام کې نیولو سره.

د ډېر عمر لرونکي او د ځیني طبي ناروغیو (لکه د زړه یا د سږو ناروغي یا شکر) لرونکي خلکو د کووېډ 19 له امله د شدید ناروغیدو احتمال ډېر دی.

## 2. د کووېډ 19 واکسین

د کووېډ 19 اپډیټ شوي (د 2024–2023 فورمول) واکسین د 6 میاشتو او لدې څخه پورته عمر لرونکو ټولو لپاره سپارښتنه کیږي.

د 6 میاشتو څخه تر 11 کلونو پورې عمر لرونکي ماشومانو لپاره د کووېډ 19 واکسین د امریکا متحده ایالاتو د خوړو او درملو اداري (Food and Drug Administration, FDA) لخوا د بیړنی استعمال جواز لاندې موجود دي. مهرباني وکړئ د نورو معلوماتو لپاره د ترلاسه کونکو او پاملرنه کونکو لپاره معلومات پاڼې وګورئ.

د 12 کلونو او لدې پورته عمر لرونکو افرادو لپاره د کووېډ 19 اپډیټ شوي واکسین چې د ModernaTX, Inc. (موډرنا) یا Pfizer, Inc. (فایزر) په واسطه تولید شوي دي، د FDA لخوا تایید شوي دي.

- **د 12 کلونو او لدې ډېر عمر لرونکی هرڅوک** باید د FDA لخوا تیید شوي د کووېډ 19 د 2024-2023 اپډیټ واکسین 1 دوز وکړي. که تاسې پدې وروستیو کې د کووېډ 19 واکسین کړې وي، تاسې باید د کووېډ 19 د 2024-2023 اپډیټ واکسین ترلاسه کولو لپاره د خپل ترټولو وروستي دوز څخه لږترلږه 8 اونۍ انتظار وکړئ.
- **ځینې خلک چې طبي ناروغۍ لري یا داسې درمل خوري چې د هغوی معافیت باندې اغیزه کوي** هغوی کولی شي د کووېډ 19 واکسین اضافي دوز ترلاسه کړي. ستاسې روغتیاپال کولی شي تاسې ته مشوره درکړي.

ځینې 12 کلن یا ډېر عمر لرونکي افراد شاید د کووېډ 19 مختلف واکسین وکړي چې د نوواکس کووېډ 19 واکسین په نوم یادیږي، د (2024–2023 فورمول) پرځای کومکي. دا واکسین د FDA لخوا د بیړنی استعمال جواز لاندې موجود دي. مهرباني وکړئ د نورو معلوماتو لپاره د ترلاسه کونکو او پاملرنه کونکو لپاره معلومات پاڼې وګورئ.

## 3. له خپل روغتیاپال سره خبرې وکړئ

د واکسینو چمتو کوونکي ته خبر ورکړئ که چېرې واکسین کیدونکی شخص:

- د **کووېډ 19 واکسین د مخکیني دوز وروسته** یا د کووېډ 19 واکسین کې موجود کومو اجزاو ته **یې حساسیتي غبرګون درلود، یا هم کوم شدید، د ژوند ګواښوونکی حساسیت یې درلودلی وي**
- که **میوکارډیټیز** (د زړه د عضلو پړسوب) یا **پیریکارډیټیز** (د زړه د باندینۍ پردې پړسوب) یې درلودلي وي
- د **څو سیستم التهابي سینډروم یې درلودلي وي** (په ماشومانو کې MIS-C او په لویانو کې MIS-A بلل کیږي)
- د **بدن دفاعي سیستم یې کمزوری وي**

په ځینو مواردو کې، ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکی نبایې پریکړه وکړي چې د کووېډ 19 واکسین تر راتلونکي لیدنې پورې وځنډوي.

د زکام په څېر د کوچنیو ناروغیو لرونکي خلک هم کولی شي واکسین ترسره کړي. هغه کسان چې په منځنۍ ډول یا سخت ناروغه وي زیاتره تر رغیدو پورې انتظار باید باسي. هغه خلک چې اوس په کووېډ 19 عفونیت اخته وي باید د ناروغۍ څخه رغیدو او د جلا والي ختمولو پورې واکسین ته انتظار وکړي.

U.S. Department of Health and Human Services
Centers for Disease Control and Prevention

کوویډ 19 باندې اخته بلاربې میرمنې د شدید ناروغۍ لوړ خطر سره مخ دي. هغه میرمنو لپاره د کوویډ 19 واکسینو سپارښتنه کیږي چې بلاربې وي، د تې شیدې ورکوي، یا اوس وخت کې هڅه کوي بلاربې شي، یا شاید په راتلونکي کې وغواړي چې بلاربې شي.

د کوویډ 19 واکسین ښایي د نورو واکسینونو سره په ورته وخت کې ورکړل شي.

## 4. د واکسین پر وړاندې د غبرګون خطرونه

- د ستني تزریق ځای کې درد، پړسوب، یا سور والی، تبه، ستړیا، سر درد، ساړه، د عضلو درد، د جوړونو درد، زړه بدی، ګرځون، او د لنفاوي غدو پړسوب د کوویډ 19 واکسین وروسته پېښېدی شي.
- میوکارډیټیز (د زړه د عضلو پړسوب) یا پیریکارډیټیز (د زړه د باندینۍ پردې پړسوب) د کوویډ 19 واکسین وروسته په ندرت سره لیدل شوي دي. دا خطر ډېر د 12 څخه تر 39 کلونو پورې عمر لرونکي نارینه و کې لیدل شوی دی. د دې د پېښېدو چانس ډېر ټیټ دی.

خلک ځیني وختونه د واکسینو په ګډون له ځینو روغتیایي کړنلارو وروسته بې هوښه کیږي. که په تاسو سرګرځیږي، یا مو په لیدو کې بدلون راغلی وي یا مو په غوږ کې زنګاری وي، په اړه یې خپل روغتیاپال ته ووایاست.

لکه د نورو درملو په څېر، واکسین هم په ډېر نادره توګه له سخت حساسیت، نورو جدي ټپونو، یا مړینې سبب ګرځېدای شي.

## 5. څه به کیږي که چیرې کومه جدي ستونزه شتون ولري؟

یو حساسیتي غبرګون کېدای شي هغه مهال رامنځته شي چې کله واکسین شوی کس له کلینیک څخه ووځي. که تاسو د جدي غبرګون نښې لکه (ټپونه، د مخ او ستوني پړسوب، تنفسي ستونزې، د زړه چټک ضربان، ستړیا، یا کمزوري) ولیدلې نو، **9-1-1** شمېرې ته زنګ ووهئ او اړونده شخص تر ټولو نږدې روغتون ته ویسئ.

سمدلاسه طبي پاملرنه ولټوئ که چیرې فرد د کوویډ 19 واکسین وروسته د سینې درد، ساه لنډی، یا د ساه تیزیدو احساس، بې واکه کیدل، یا د زړه درزا تجربه کړي. دا د میوکارډیټیز یا پیریکارډیټیز علایم کیدی شي.

د نورو هغو علایمو لپاره چې تاسو یې په اړه اندېښنه لرئ، خپل د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي ته زنګ ووهئ.

د منفي غبرګونونو په اړه باید دواکسینو ضرري پېښو د راپور سیستم (Vaccine Adverse Event Reporting System, VAERS) د ته راپور ورکړل شي. ستاسو روغتیاپال زیاتره دا ډول راپورونه ثبتوي، یا تاسو خپله باید دا کار وکړئ. له VAERS وېب سایټ څخه په دې پته لیدنه وکړئ www.vaers.hhs.gov یا دې شمېرې ته زنګ ووهئ **1-800-822-7967**. *VAERS یواځې د غبرګون په اړه د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکوونکي روغتیایي مشورې نه ورکوي.*

## 6. د متقابل عمل اړوند د زیانونو د جبران برنامه

د متقابل عمل اړوند د زیانونو د جبران برنامه (Countermeasures Injury Compensation Program, CICP) یوه فدرالي برنامه ده چې کولی شي د روغتیایي پاملرنې د لګښتونو او د ځینو ځانګړو کسانو د نورو ځانګړو لګښتونو په تادیه کولو کې مرسته وکړي چې د ځانګړو درملو یا واکسینونو له امله سخت ټپي شوي وي، پشمول د دې واکسین. عموماً، CICP ته باید ادعا د واکسین کولو نیټې څخه په یوه (1) کال موده کې وسپارل شي. د دې پروګرام په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د پروګرام ویب سایټ www.hrsa.gov/cicp ته ورشئ، یا **1-855-266-2427** ته زنګ ووهئ.

## 7. څرنګه کولی شم نور معلومات لاسته راوړم؟

- له خپل روغتیاپال څخه پوښتنې وکړئ.
- خپلې ځایي یا ایالتي روغتیایي څانګې ته زنګ ووهئ.
- د کوویډ 19 معلومات پاڼو، د کځورې معلوماتو، او نورو اضافي معلوماتو لپاره د خوړو او درملو اداري (Food and Drug Administration, FDA) ویب پاڼې **www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/industry-biologics/coronavirus-covid-19-cber-regulated-biologics** ته ورشئ.
- د ناروغیو د کنترول او مخنیوي مرکز (Centers for Disease Control and Prevention, CDC) سره په اړیکه کې شئ:
  - **1-800-232-4636** (**1-800-CDC-INFO**) ته زنګ ووهئ یا
  - د CDC د کوویډ 19 وېب سایټ www.cdc.gov/coronavirus ته په دې پته ورشئ.

Pashto translation provided by Immunize.org